## شمس بونېرے

**دغه خاوره زما ده، خو چې زما شي**

دغــه خــاوره چــې ازاده شــي زمــا شــي
بيــا بــه هلــه پــه شــريکه پښــتونخوا شــي
ډېــرې چــارې پــه وطــن بانــدې راغلــې
نــوې چــاره بــه هــم زر ده چې پــه شــا شــي
اول نـهٔ وي خـو چې واک اختيـار ئې راشـي
جــوج مــاجوج د كــوه قافــه را پېــدا شــي
پېرنګيـــــه دا وطــــن زمــــا د پــــلار دے
پــه قــرآن كـهٔ دغــه خــاوره رانــه ســتا شــي
ځــان امــام كــړه ولــې مــا هــم مقتــدي كــړه
چې دا مــونځ مــو پــه شريكه كېږي ادا شــي
تـهٔ هګـو لــه چرګــه ګــورې چې بچــې شــي
هسې نه چې دې هګۍ لاسو كښې سخا شــي
سياســت مراقبــه دے خدايــه خبــر كــړې
څوک پېدا كړې چې د خلقو مسيحا شــي
شمســه! وخــت تــه غــاړه كېــږده ناچــاري ده
ډېـر يــاران بــه د يــو بــل نــه نيمــه خــوا شــي

## امجد شهزاد

زمــا د قــام بچــي لــه هرســړي وسـله وركــړې
يــو باچــا خــان ورلــه د مينــې فلسـفه وركــړې
چا چې هم دا اولس د شر پـه حوالـه ياد كـړے
مــا د خــدائي خـدمتګارانو حوالــه وركــړې
مـا پكښـې خپله زمانه بيـا هم پېدا نهٔ كړله
مــا خــو تــاريخ لــه يــوه لويــه زمانــه وركــړې
ټــولې دنيــا دې رانېــغ كــړې سـنګينونه راتــه
ټــولې دنيــا زمــا خــلاف ده فېصــله وركــړې
زهٔ د خپل قـام نـه د شعور طمعه پـه څهٔ ولرم
مــا ورلــه څهٔ خــو تــش مُنيــا او خُلاصــه وركــړې
ځانګه به نن سبا كښې ګل شي سرې غوټۍ ئې كړې
پــه دې مــې ځــان لــه د دروغــو دلاســه وركــړې
د لاس بنګړي دې په دسمال وتړه شرنګ ونهٔ كړي
د ښــار قاضــي د تــرنم خــلاف فتــوه وركــړې
امجد به مړ شي خو سندره مرګ له نهٔ وركوي
دغــه فنكــار لــه مينــې لويــه حوصـله وركــړې

## حبيب راهي (چارسده)

دا د خپـل سـېوري وېريـدلي خلق چرتـه لاړ شي
دا ترهېــدلي بوږنېــدلي خلــق چرتــه لاړ شــي
د بــدنامۍ د ويــرې اُف قــدرې كــولے نــهٔ شــي
دا غلــي غلــي دم ختلــي خلــق چرتــه لاړ شــي
خدايه! نو اوس ورته دا خپل وطن جنت جنت كړه
ســتا د جنتــه راوتلــي خلــق چرتــه لاړ شــي
خپله لمن چې هم تر خپلو اوښكو نهٔ شي وړلې
دا بــې اختيــاره ژړېــدلي خلــق چرتــه لاړ شــي
د بــام د ســره پرېــوتلي طبيبــانو لــه ځــي
راهــي د ســترګو پرېــوتلي خلــق چرتــه لاړ شــي

## منظور كامران

چــې پــه هــره لار زمــونږه قتــل عــام ؤ
خدايــه ســتا پــه زمكــه دا څنګــه نظــام ؤ

زنځيرونــه مــې د پښــو نــه لــرې نــهٔ شــو
ګنــې مــا هــم ســتا پــه لــور اخســتے ګــام ؤ

ســتا ګيلــه مــنم تيــارو خوړليــه يــاره
زهٔ چــې تنــدر پرېښــودمه نــو ماښــام ؤ

يــوه ورځ بــه ســتا نــه دا پوښــتنه كېــږي
تــا پــه كــوم ګنــاه نيــولے زمــا قــام ؤ

# هجران

## Internally Displace Persons

ډاکټر محمد زبير حسرت

قافلې دي چې را درومي عالمونه راچلېږي
د شينکي اسمان د لاندې او په سر د خړې زمکې
ستړي ستړي قدمونه چې په نۀ زړۀ وچتېږي
"د بې کوره حسرتونو ارمانونو ښار کښې اوسي"
در په در کډه په سر دي مسافر دي
شتۀ وطن کښې بې وطنه اوږي تږي او نهر دي
په لکونو انسانان بې کوره اوره بې ګودره
چې ژوندون ورته سور اور دے عذابېږي
راوتے نۀ شي د اور له سمندره
زړۀ چاودلي مزلونه په تښاکو پښو روان دي
چې په زړونو ئې پولۍ دي په مثال دي لکه وږي
په طرف د نامعلومه منزلونو
وير کوي په خپلو خونو کنډرونو
انګولا ده د مئينو په سرو وينو او لاشونو
په سوونو په زرګونو په لکونو
خلق ورک شو
څادرونه او درانۀ پړوني سپک شو
پړي سست شو د غوا مېښو د ګوارې
"مېندې بورې، ښځې کونډې، خوېندې ورارې"
بوډاګان دي کۀ ځوانان کۀ ماشومان دي
سرتور سرې پېغلې جونه په ګريان دي
په سېلاب د خپلو وينو کښې روان دي
ځنې ملۀ دي ځنې پاتې له کاروان دي
غاړې غړونه د وطن په اور ستي شو

پښتانۀ د پښتو تور کښې تومتي شو
ابشارونه چينې وير کوي ژړېږي
په احوال د مظلومانو زهيرېږي
چينارونه، نښترونه چې غوڅېږي
او مارغان له خپلو ځالو رخصتېږي
سرۀ ګلان د باجوړ په تبۍ تور شو
موسمونه د سپرلو ور پورې اور شو
خزانونو هسې ملک دے شړشم کړے
کوم ښامار دے چې ئې ټول خلق دم کړے
زما سوات جنت جنت چې اوس سقر دے
زما ياد د شيخ ملي بابا دفتر دے
فضا ګټ راته جوړ شوے قضاګټ دے
د ورتو غوښو سوړ وږم د مرګټ دے
دير مې نۀ دے هېر چې سم جنت نظير دے
په سالمه پښتونخوا کښې بې نظير دے
اوس ئې هره دره هر يو در کښې وير دے
تېمرګره، چکدره ده کۀ تانه ده
د اغيارو په لاسونو کښې ګانه ده
د پښتون ملک احمد امان دره ده
چې د جنګ توره بلا پکښې دېره ده
اله ډنډ دے، جولګرام کۀ ظلم کوټ دے
زړۀ ځيګر باندې خوړلے ئې لوئے چوټ دے
کوم بابر د مورې غرۀ کښې چرته ناست دے
کړې تابيا د پښتانۀ وينو ته راست دے

خو زما هر یو سپین روبے شاه منصور دے
چې د خپل احساس په وینو باندې سُور دے
مینګوره، بریکوټ کۀ کراکړ دے
ژوندي نۀ برېښي، شعور مې پکښې مړ دے
تاؤ له غاړې ئې تور پړے دے جوړ پړ دے
چې د ډزو په شور کوڼ په بارود خړ دے
دا د کوم جرم په تور باندې ککړ دے؟
دا بوډا روان په غرۀ کښې څوک زومړ دے؟
د ایلم څوکه کږه ده سر ئې مات دے
دبره شوے چې په زړۀ کښې ئې پسات دے
ساندې ساندې هره خوا د سمه سوات دے
په پښتون جوړ اواز شوے د میرات دے
د مرګي ویرې اخستي دي وګړي
کۀ دي کاڼي چې د غرۀ له سره رغړي
سورکاوی ده امبیله ده کۀ ډګر دے
دبره شوے پکښې کوم یو ستمګر دے
د سرونو فصل ربېي جوړ لوګر دے
خو سرماتے پکښې هر مُغل بیربل دے
چې ئې کړے پښتانۀ باندې یرغل دے
د بونیر پیره بابا راورسېږي
کۀ په حال د یوسفزیو زهیرېږي
دیوانه ته هم اواز وکړه چې راشي
دروېزه دې هم تر ملا او همنوا شي
پیر روښان به کړو د خپلې جرګې مشر
چې له کوره د پښتون ورکه بلا شي
چې دا وخت نۀ خو د بحث مناظرې دے
دغه وخت لویه حجره کښې د جرګې دے
غرونه ژاړي هائې سوران په ملاکنډ دے
چې سفر په خپل وجود په خپل مرکنډ دے
نۀ سپرلے شته نۀ شینکے شته نۀ ګلونه
وطن نۀ د چکه شوے وینې ډنډ دے
خوشحالۍ راځنې لوټ دې هر خوا غم دے
په سالمه پښتونخوا باندې ماتم دے
له دې غمه هر یو تن ګډ په لړزان دے
ډېره لویه المیه ده لوئے هجران دے

## عطاءالله جان

یو خوا مې ستا د مینې غم ښخې اوزګار نۀ پرېږدي
بل خوا مې دې غم ته غمونه د روزګار نۀ پرېږدي

خوب راله راشي خو د سترګو نه مې بیا وتښتي
اودۀ کېدو ته مې زړۀ چاؤدے انتظار نۀ پرېږدي

ځنې یادونه سرے هر وخت ناقلاره ساتي
ځنې یادونه سرے یو ساعت قلار نۀ پرېږدي

کۀ هر څو ګرانه ده زما ګلاب ګلاب جانانه
خو ستا مئین لېونے ستا د مینې لار نۀ پرېږدي

دا د عزت، دا د غېرت دا د ناموس قاتلان
د غېرتمندو پښتنو په سر دستار نۀ پرېږدي

نمر مخیه یاره ستا د مخ نه طوافونه کوي
زما نظر لکه د ستوري خپل مدار نۀ پرېږدي

دلته کۀ اوسې نو خبرې به د امن نۀ کړې
په دې نادان وطن کښې دا خلق هوښیارنۀ پرېږدي

وخت کۀ ترې ژبه پرېکوي خو لېوني پښتانۀ
خپله نعره د خپلې خاورې خپل اختیار نۀ پرېږدي

جانه زما او ستا د مینې یو یادګار نۀ پرېږدي
جانه دا خلق چینه نۀ پرېږدي چینار نۀ پرېږدي